سلام خان ۲۰۱۳/۰۲/۰۶

# افغانستان او ناروې ستراتېژيک تړون لاسليک کړ



له امريکا، انګلستان، جرمني، هند، ايټاليا، استراليا او فرانسې سره د افغان لوري د اوږد مهاله ستراتيژيکو تړونو سربېره ناروې اتم هېواد دی چې افغان حکومت دا تړون ورسره لاسليکوي. چې له مخې يې په راتلونکې له دغو هېوادونو سره د اړيکو څرنګوالی روښانوي، افغان ولسمشر حامد کرزی ناروې ته د سفر پر مهال له دغه هېواد سره اوږد مهاله ستراتيژيک تړون لاسليک کړد دې سند له مخې به د اوسلو او کابل تر منځ سياسي، اقتصادي او امنيتي اړيکې روښانه شي دغه تړون د ولسمشر حامد کرزي او لومړي وزير وينسي استالتنبرګ ترمنځ لاسليک شو د دواړو هيوادونو مشرانو د فساد پرضد د مبارزې ژمنه وکړه، د دغه سند تر لاسليکدو وروسته، د ناروې لومړي وزير ينس ستولتنبېرګ، وويل چې «هيواد يې د فساد پر ضد هيڅ زغم نه لري، نو له همدې امله مونږ د ناروې هيواد مرسته کوونکې پيسې له نزدې تعقيبوو، په پام کې ده چې تر ۲۰۱۷م کاله پورې به ناروې له افغانستان سره ۷۵۰ ميليونه کرونر، چې ۱۳۶ ميليونه ډالر کيږي، مرسته وکړي، ستولتنبرګ وويل، حتي کله چې ناروې په افغانستان کې خپل پوځي ځواکونه راکم هم کړی، خپل ځان «د ښې حکومتدارۍ، د قانون حاکميت، بشري حقونو، شفافيت او ديموکراسي» په برخه کې له افغانستان سره ژمن بولي، افغان ولسمشر حامد کرزي وويل: «په دې برخه کې به د افغانستان ونډه دا وي، هغه مالي مرستې چې د نا روی له خوا ورکول کيږي، په سمه توګه او د افغانانو په ګټه به لګول کيږي هغه په خپلو خبرو کې زياته کړه چې افغانستان به د امن يو داسې چاپيريال» رامنځ ته کړي چې د خپلو خلکو امنيت او د نورو هيوادونو ګټې په کې تأمين وي ،ستولتنبرګ وړاندې زياته کړه: د نړيوال تروريزم پر ضد جګړه، يوه نړيواله جګړه ده... او مونږ بايد د بيلابيلو هيوادونو تر منځ همکاري وکړو.» د هغه له دې خبرې څخه په الجزاير کې د ګازو په تأسيساتو کې د يرغمل نيونې يوې پېښې ته اشاره وه، چې په کې د ناروې پنځه تنه وګړي وژل شوي وو.

کرزي د هغې پوښتنې په ځواب کې چې آيا وروسته له ۲۰۱۴ کال څخه به د ولسمشر په توګه پاتې شي، وويل: «دا هيڅ د پوښتنې وړ خبره نه ده» ځکه چې د افغانستان اساسي قانون يې اجازه نه ورکوي، پر دې سربيره افغان ولسمشر د ناروې د بهرنيو چارو له وزير، د دفاع وزير، د پارلمان رئيس، د بهرنيو او دفاعي چارو د جرګه ګيو له استازو او د دغه هيواد له پاچا هارلد، سره هم وليدل، دناروی او افغانستان اړيکی څولسيزو ته رسيږې، د افغانستان د بهرنيو چارو وزرات وياند جانان موسی زی وايلی دی چی له ناروې سره اړيکې د افغانستان لپاره ډېرې مهمې او اړينې دي، ځکه دغه هېواد له افغان حکومت سره پراخې مرستې کړې دي:

"ناروې له افغانستان سره په تېرو ۱۰ کلونو کې نژدې ۱۰ ميلياردە ډالره مرستې کړې، دغه راز د ناروې يو شمېر سرتېري په افغانستان کې له افغان امنيتي ځواکونو سره د امنيت په ټينګولو کې همکار پاتې شوې دي. او د سيمه ييزو همکاريو په لړ کې يې له افغانستان او د سيمې له نورو هېوادونو سره مرستې کړې دي. ناروې په تېرو ۱۰ کلونو کې له افغانستان سره يو همکار هېواد پاتې شوی او هيله لرو چې تر ۲۰۱۴ کال وروسته به هم دغه دوستي په ډېره جدي او نژدې توګه دوام ولري، ناورې په ۲۰۰۳ کال کې افغانستان ته ځواکونه وليږل چې نژدې زرو تنو ته رسيږي او د افغانستان په شمال کې مېشت دي، په تېرو کلونو کې د ناروېژن چرچ ايډ، ناروېژن ريفويجي کونسل، د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې په ګډون يو شمېر موسسو د کرنې، روغتيا، پوهنې او له طبيعي پېښو سره د مبارزې په برخو کې کارونه کړي دي افغانستان لپاره د ناروېژن کمېټې سرپرست مشر سيدجلال الدين شاه وايي دوی د افغانستان په بدخشان، وردګو، غزني او ننګرهار ولايتونو کې فعاليت کوي او غواړي چې خپلو چارو ته تر ۲۰۱۴ کال وروسته هم دوام ورکړي، د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې فعاليتونه ۳۰ کاله مخکې له پېښوره پيل شول او له افغان کډوالو سره يې مرستې کولې. په ۲۰۰۲ کال کې يې خپل دفتر کابل ته وليږداوه، نو تر ۲۰۱۴ کال وروسته که امنيت وي يا نه وي موږ پلان لرو چې په افغانستان کې کار وکړوا فغان ولسمشر د دوشنبې په ورځ ناوخته له بريتانيې څخه ناروې ته ورسيد. په برتانيه کې حامد کرزي له صدراعظم ديويد کمرون او د پاکستان له ولسمشر، آصف علي زرداري سره په درې اړخيزو خبرو اترو کې برخه اخيستې وه، ولسمشر کرزي او ولسمشر زرداري وړمه ورځ په لندن کې په خپل منځ کې له خبرو وروسته وويل چې په دوحه کې د طالبانو لپاره د دفتر د پرانستلو تر څنګ به هڅه وکړي چې په افغانستان کې د پخلاينې پروسه په شپږو مياشتو کې دننه بريالی شي، په داسی حال کی چی وسله والو طالبانو په شپږو


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مياشتو کې د افغانستان د مسلې د حل کولو لپاره د ګډ کار په باب د افغانستان او پاکستان موافقه او د افغانستان، پاکستان او بريتانيا د درې اړخيزې غونډې پايلې رد کړې دی د طالبانو ويندوی ذبيح الله مجاهد په يوه ليکنه کې، چې د طالبانو د اسلامي امارت ويبپاڼې خپره کړې ده، ويلي چې دا کنفرانس او نورې هلې ځلې د اصلي خواوو ترمنځ د خبرواترو د لارې خنډونه دي د ذبيح الله مجاهد اشاره ظاهراً د طالبانو پخواني دريځ ته ده چې د سولې خبرې بايد د طالبانو او امريکا ترمنځ وشي، طالبانو تل دافغانستان له حکومت سره له خبرو انکار کړی دی، مجاهد دغه راز ليکلي دی چې: لوېديځ ځواکونه چې له پوځي ماتې سره مخامخ شوي له دا ډول کنفرانسونو څخه د تبليغاتو په توګه کار اخلي په عين حال کی د ځينو راپورونو له مخې په قطر کې د امريکا او طالب استازو ترمنځ خبرې پيل شوي او ټاکل شوې ده چې د افغانستان ولسمشر حامد کرزی په دی هکله د قطر له امير سره ټيلفوني خبرې وکړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ